بسم الله الرحمن الرحيم

# ټرمپ پر اوپک په ځانګړې توګه پر سعودي ټينګار کوي چې د نفتو توليد زيات او قيمت يې ټيټ کړي!

(ژباړه)




**پوښتنه:**

ټرمپ د ۲۰۱۸م د اکتوبر پر دويمه په ميسي سيپي ايالت کې د ټاکنو په دويمه غونډه کې د سعودي عربستان حکومت په ګواښلو سره خپلو پلويانو ته په ډاګه کړه، چې د تېلو د قيمت د زياتوالي مخه به ونيسي، هغه وويل: « زموږ نظامي معاملې به څنګه کيږي؟ له پانګوالو دولتونو څخه ملاتړ کوو، خو په بدل کې يې هېڅ نه ترلاسه کوو. له دې توکو( نفتو) څخه څه خبر؟ دا هم د خلکو حالت بدلوي، موږ له سعودي عربستان څخه ملاتړ کوو، تاسو وايئ چې دا شتمن دولت دی؟ هو په ما شاه سلمان ګران دی، خو هغه ته مې وويل: «اې شاه موږ له تا څخه ملاتړ کوو او زموږ له ملاتړ پرته به حتی د دوو اونيو لپاره هم مقاومت ونه کړې، نو بايد خپلو نظاميانو ته پيسې ورکړې». (سرچينه: خليج ان لاين د ۲۰۱۸م، د اکتوبر ۳مه)

نه غواړم وپوښتم چې ولې د سعودي عربستان حکام د امريکا د سپکاوي پر وړاندې غلي دي او د امريکا پر وړاندې سر ټيټوي، ځکه پوهېږم چې هغوی خپله ډېر ذليل انسانان دي او د ذليلو انسانانو لپاره سپکاوی کومه مانا نه لري. خو زما پوښتنه دا ده چې ولې ټرمپ سعودي تر فشار لاندې راوستلی څو د قيمتونو د کموالي لپاره د نفتو توليد زيات کړي، په داسې حال کې چې امريکا خپله د نفتو تر ټولو لويه توليد کوونکې ده او خپله په يوازېتوب سره کولای شي چې د نفتو قيمت راټيټ کړي؟ د پوښتنې بله برخه دا ده چې ولې اوسمهال دا فشارونه زيات شوي؟ او وروستۍ برخه يې هم دا ده چې ولې د امريکا لخوا له دومره فشار سره سره بيا هم د نفتو قيمت نه ټيټيږي؟ جزاک الله خيرا.

**ځواب:**

هو! سمه ده چې ذليلو انسانانو ته سپکاوی مانا نه لري. سعودي ته د ټرمپ د سپکاوی پر وړاندې که د سعودي بل کار له لاسه نه کېدو، لږ تر لږه يې کولای شوای له امريکا سره اړيکې پرې کړي، خو واقعيت دا دی چې هغوی نه له الله سبحانه و تعالی، نه يې له رسول صلی الله عليه وسلم او نه هم له مومنينو څخه شرميږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ»

(البخاري)

ژباړه: په تحقيق سره چې كه خلک د نبوت پر خبرو پوه شي، نو يوه يې دا چې كه حيا نه لرې، هر څه چې د زړه غواړي هغه وكړه.

پوښتنو ته د ځواب لپاره د بايد لاندې مسايل ووايم:

۱- كله چې دونالد ټرمپ د ۲۰۱۷م په جنوري مياشت كې واک ته ورسېد، د نفتو د هرې بوشكې قيمت ۵۷ ډالره وو. د ۲۰۱۷ د جون مياشتې په رارسېدو سره د هرې بوشكې قيمت ۴۵ ډالره شو، خو تر هغې وروسته مخ پر زياتېدو شو او اوس د نفتو د هرې بوشكې قيمت ۸۶ ډالرو ته رسېدلی دی او ځينې كارپوهان په دې اند دي چې د نفتو د هرې بوشكې قيمت به ۱۰۰ ډالرو ته ورسيږي.

ټرمپ د ۲۰۱۸م د جولای پر ۵ په خپله ټويټر پاڼه كې ليكلي وو: د اوپک احتكار كوونكي غړي هېوادونو بايد په پام كې ولري چې د نفتو قيمت زيات دی او هغوی يې په تړاو هېڅ د پام وړ ګام نه اخلي. په لږ بدلون سره هغوی قيمتونه زياتوي. متحده ايالات د ډالر د لوړوالي پر وړاندې له ډېرو غړو (له اوپک غړو) دفاع كوي. دا كړنې بايد دوه اړخيزې وي يعنې موږ له تاسو ملاتړ كوو او تاسو بايد د نفتو قيمت راټيټ كړئ "قيمتونه را ټيټ كړئ!" ». له دې ټويټ څخه مخكې، د ۲۰۱۸م د جون پر ۳۰ يې هم په يو بل ټويټ كې داسې ويلي وو: « د سعودي عربستان له پاچا سلمان سره مې خبرې وكړې او هغه ته مې روښانه كړه چې زه په ايران او ونزيويلا كې د ګډوډۍ او بدلونونو له امله له سعودي عربستان څخه غواړم چې د نفتو توليد زيات كړي او احتمال لري چې دا زياتوالی به ۲۰۰۰۰۰۰ بوشكو ته ورسيږي ترڅو كموالی جبران كړي. هغه وويل قيمتونه زيات دي او نوموړي د توليد په زياتوالي هوكړه وكړه». (سرچينه: الحرة د ۲۰۱۸م د جون ۳۰مه).

د امريكا ولسمشر د ۲۰۱۸م د سپتمبر پر ۲۵ د ملګرو ملتونه په ټوليزه ناسته كې په خپله وينا كې اوپک سازمان ته وويل: د اوپک سازمان او لوی دولتونه د نفتو د بيې په زياتولو سره له نړۍ څخه غلا كوي او دا زما لپاره د منلو وړ نه ده او د نورو لپاره بايد هم د منلو وړ نه وي. موږ له ډېرو دولتونو څخه د هېڅ په بدل كې ملاتړ كوو، خو هغوی بيا هم د نفتو بيه زياتوي، زموږ غوښتنه له هغوی څخه دا ده چې بيه كمه كړي. له دې وروسته به موږ دا ستره بيې ونه زغمو» (سرچينه: سپوتنيک نيوز د ۲۰۱۸م د جون ۳۰مه). ټرمپ همداراز د ۲۰۱۸م د سپتمبر پر ۲۷ په ټويټر كې وليكل: «موږ له منځنيو هېوادونو ملاتړ كوو، چې زموږ له ملاتړ پرته په امن كې نه دي، خو بيا هم د نفتو بيې زياتوي! د هغوی دغه كار مو په ياد دی، نو د اوپک احتكار كوونكی سازمان بايد همدا اوس بيې راټيټې كړي».

لكه څنګه چې په پوښتنه كې هم يادونه وشوه، د ۲۰۱۸م د اكتوبر پر ۲مه ټرمپ په ميسي سيپي ايالت كې د ټاكنو د نيمايي دورې په ناسته كې د سعودي عربستان شاهي حكومت ته اخطار وركړی وو او خپلو پلويانو ته يې داسې وښوده چې د نفتو د لوړو بيو پر وړاندې به ودريږي، هغه وويل: « زموږ نظامي معاملې به څنګه كيږي؟ له پانګوالو دولتونو څخه ملاتړ كوو خو په بدل كې يې هېڅ نه تر لاسه كوو. له دې توكو " نفتو" څخه څه خبر؟ دا هم د خلكو حالت بدلوي، موږ له سعودي عربستان څخه ملاتړ كوو، تاسو وايئ چې دا شتمن دولت دی؟ هو، په ما شاه سلمان ګران دی، خو هغه ته مې وويل: "ای شاه موږ له تا څخه ملاتړ كوو . كيدای شي زموږ له ملاتړ پرته حتی د دوو اونيو لپاره هم مقاومت ونه كړې، نو بايد خپلو نظاميانو ته پيسې وركړې" (سرچينه: خليج ان لاين، د ۲۰۱۸م د اكتوبر ۳مه)

ټولې دا ويناوې د دې ښكارندوی دي چې ټرمپ ټينګار لري، ترڅو په اوسنيو حالاتو كې د اوپک په ځانګړې توګه د سعودي عربستان په كارونې سره د نفتو د توليد كچه زياته كړي.

۲- هو! امريكا په نړۍ كې د نفت تر ټولو ډېر توليد لري. د امريكا د انرژۍ د معلوماتو اداري له رپورت سره سم (EIA چې د انرژي شمېر ښيي) د ۲۰۱۷م په پای كې د نړۍ په كچه د نفت د توليد جدول خپور كړ، چې د توليد ټولګه په هغه وخت كې ۹۵ ميليونه بوشكو ته رسېده. د دې اداري د وړاندې شوي شمير پر بنسټ، اووه هغه دولتونه چې ډېر توليد لري په لاندې ډول دي:

- امریکا متحد ایالت ۱۴,۴۶ میلونه بوشکې په ورځ کې تولید لري

- سعودي عربستان ۱۲,۰۸ میلونه بوشکې

- روسیه ۱۱,۱۸ میلیونه بوشکې

- کانادا ۴,۸۷ میلیونه بوشکې

- ایران ۴,۶۷ میلیونه بوشکې

- عراق ۴,۴۸ میلیونه بوشکې

- چین ۴,۴۵ میلونه بوشکې

امریکا تر اوسه د نړۍ په کچه د نفت ستره تولید کوونکې ده او ورپسې سعودي او روسیه.

۳- که امریکا وغواړي د نفتو د تولید د زیاتولو توان لري، ځکه چې د نفتو لويي زېرمې لري، خو د ځينو دلیلونو له امله دا ډول نفت نه تولیدوي:

آ. د امریکا د نفتي زېرمو ساتل.

ب. ځینې مزدور او بې عقله حکام د امریکا له اوامرو څخه اطاعت کوي، ان که اطاعت یې د سپکاوي په قیمت وي او هغوی ته ضرر ورسوي چې د سعودي حکام هم له دغه ډول حکامو څخه دي. امریکا له هغوی څخه غواړي چې د نفتو بیې ټیټې کړي چې د امریکا خلک وکولای شي په ارزانه نفت واخلي. د سعودي حکام وعده ورکوي چې اطاعت به یې کوي، په داسې حال کې چې په نړیواله کچه د برنت مخلوطو خامو نفتو د هرې بوشکې بیه د اوسني میلادي کال په نهمه میاشت کې کابو ۸۰ ډالره دی. د رویترز خبرپاڼې د ۲۰۱۸م د سپتمبر په ۱۴مه په یوه خبر کې داسې وویل چې په نړیواله کچه د برنت مخلوطو خامو نفتو د هرې بوشکې بیه د ۲۰۱۸م د سپتمبر په ۱۴مه ۷۸,۲۱ ډالره شوې وه، چې د ۲۰۱۸م د مې له ۲۲مې راپدې خوا بې سارې ده. باید وویل شي چې « د اوپک د غړو هېوادونو تولید په ورځ کې ۳۲,۷۹ میلونه بوشکې زیات شوی او سعودي عربستان چې مخکې یې وعده کړې وه د خپلو نفتو د تولید کچه به په بې سارې توګه زیاته کړي او ویلي یې دي چې د دې هوکړې پر بنسټ به د دې تولید کچه په ورځ کې یو میلیون بوشکې زیاته کړي. (سرچینه: د ۲۰۱۸ کال د اګست ۳۱). یاده شوې سرچینه وایي: کله چې د برنت د خامو نفتو د هرې بوشکې بیه تر ۸۰ ډالرو ورسېده، سعودي عربستان نړیوالو بازارونو ته خبر ورکړ چې خپل تولید به په وروستیو میاشتو کې زیات کړي او دا خبرداری مخکې له هغې ورکړل شو چې سعودي هغه مهال له داسې معلوماتو پرده پورته کړه.

له شکه پرته چې په سعودي عربستان کې حاکم نظام به تر هغه مهاله چې دا ځمکه د نفتو نړیوال بازار په ثبات کې بنسټیز رول ولري، په امریکا پورې تړلی وي او د هغې مزدور به وي. خپله سعودي اوس مهال د نفتو لوړو بیو ته اړتیا لري، ځکه د دې دولت اقتصاد له ۲۰۱۴م راهیسې چې د نفتو بیې کمې شوې تر سختو فشارونو لاندې دی، په داسې حال کې چې نفت د سعودي د بودیجې د ملا تیر دی. هغه هېوادونه چې نفتي عاید یې، په ټولیز عاید کې تر ۵۰ سلنه زیاته برخه ولري، دې ته اړتیا لري چې د نفتو بیې باید په هره بوشکه کې تر ۸۰ ډالرو ډېرې وي چې وکړای شي د خپلې بودیجې توازن وساتي، یعني عاید یې هغې کچې ته ورسیږي چې وکړای شي خپل بودیجوي لګښت پرې پوره کړي. په دې توګه پوهېدلای شو چې د سعودي لپاره د نفتو د بیو زیاتېدل څومره اړین دي، داسې هېواد چې ټول اقتصاد یې په نفتي عاید ولاړ دی! ځکه نو شک نشته چې د سعودي لپاره د نفتو مناسبه بیه له ۸۰ ډالرو زیات تر دې دی چې نږدې ۱۰۰ ډالرو ته ورسیږي، چې وکولی شي د خپلې بودیجې توازن وساتي او خپل اقتصاد ته وده ورکړي. پوهېږو چې د سعودي اقتصاد اوسمهال سخت مخ پر ځوړ دی، خو بیا هم خاین حکام یې (د کفارو په ګټه) د بیو پر کموالي ټینګار کوي چې خپل د تولید کچه زیاته کړي. په داسې حال کې چې پوهېږي د تولید زیاتوالی یې په زیان دی. هغوی په دې کار سره غواړي ټرمپ راضي وساتي، هغه ټرامپ چې په ښکاره یې د سعودي حکامو ته سپکاوی وکړ او ویې ویل چې که امریکا درنه ملاتړ ونکړي تاج و تخت به دې له منځه ولاړ شي! خو دا

ذلیل حاکمان دغه سپکاوي ته نه ګوري او ولیعهد یې اعلان کوي چې سعودي حاضر دی، د ایران د نفت د تولید کمښت جبران کړي. د امریکا د بلومبرګ خبري آژانس د ۲۰۱۸م د اکتوبر پر ۶مه د سعودي د ولیعهد بن سلمان ویناوې خپرې کړې چې ټینګار یې وکړ، اوس په ورځ کې ۱۰،۷ میلونه بوشکې نفت تولید لري او که نړیوال بازار اړتیا ولري، سعودي کولای شي ۱،۳ میلونه بوشکې نور هم تولید کړي. په دې سره لیدلای شو چې اوس هم امریکا مزدوران لري چې چمتو دي، د ټرمپ د غوښتنو د پوره کولو لپاره د نفتو د تولید په زیاتولو سره ځان ته زیان ورسوي، په داسې حال کې نو امریکا ولې خپلې زېرمې کمې کړي؟

۴- د دې دلیل چې ولې ټرامپ اوس ټینګار کوي، اوپک په ځانګړې توګه سعودي خپل تولید زیات او بیې ټیټې کړي، دا دی چې دوه مسلې دي چې ټرامپ یې چاپېر کړی چې که په چټکۍ سره یې حل نه کړي په راتلونکي کې به د جبران وړ نه وي او که دادوه مسلې نه وای، نو ټرمپ به د نفتو د بیو له لوړېدو څخه شکایت نه کاوه او هغه ته به یې هېڅ زیان نه رسوه. امریکا کولای شي د ډالرو په ډېر چاپ سره د بیو زیاتوالی جبران کړي، لکه څنګه یې چې دغه کار ۱۵۰ډالرو ته د پټرولو د بیې په رسېدو سره وکړ او د ۲۰۰۹م د مې په ۱۶ مو په دې هکله یوې پوښتنې ته ځواب خپور کړی وو او په یوه برخه کې مو داسې ویلي وو: «امریکا کولای شي د پیسو د نړیوال صندوق په هوکړه یا په پټه او یا حتی په روښانه توګه او یا له یادې هوکړې پرته ډېرې کاغذي پیسې خپرې کړي، ځکه پر یاد صندوق عملا واک لري او کولای شي حقیقت پټ کړي او په دروغ ویلو بهانه وکړي او یاد صندوق هم هغه تایید کړي. خو د کاغذي پیسو ډېر خپرول به د ډالرو د بیې د کموالي او په پای کې د تورم سبب شي، یعني د توکو د بیو د لوړوالي لامل به شي. نو ځکه امریکا به داسې کار ونکړي، مګر دا چې په هغې کې یې ډېره ګټه وي. د بېلګې په توګه امریکا د نفتي تضادونو په لړۍ کې، چې په ترڅ کې یې په هره بوشکه کې تر ۱۵۰ ډالرو بیې لوړې شوې، له ۲ تر ۴ تریلیونه ډالر خپاره کړل همداراز امریکا هم له نفتي تضاد څخه لرې نه وه. امریکا یاده اندازه ډالر چاپ کړل ترڅو وکولی شي، په مستقیمه او غیر مستقیمه بڼه زیات نفت واخلي او خپلې نفتي زېرمې زیاتې کړي ځکه په دې کار کې یې د نفت له زیاتوالي او د ډالر له کموالي څخه ډېره ګټه وه. خو له هغه ځایه چې د دې کار تر سره کول ډېر وخت نیسي او پر دې سربېره هغه دوه مسلې باید په چټکۍ سره حل شي، ځکه له حل پرته به یې ټرمپ له فشار سره مخ وي. له همدې امله و چې ټرامپ اوپک غړو په ځانګړې توګه سعودي ته غاښونه او منګولې ښکاره کړې او یادې دوې مسلې دا دي:

لمړی: پر ایران د بندیزونو مسئله:

ایران له سعودي او عراق څخه وروسته، د نفت د صادراتو دریېم لوی هېواد دی چې د نفت تولید یې په ورځ کې ۴ میلیونه بوشکې دی. بندیزونه به د ایران د نفتو د صادراتو د کموالي لامل شي، په ځانګړې توګه د اوسني کال له نومبر میاشتې وروسته چې د ایران پر وړاندې به بندیزونه ډېر شي او د ایران په شمول هغه هېوادونه به پکې شامل وي چې د ایران نفت واردوي، ځکه امریکا د ایران د نفتو له ټولو اخیستونکو شرکتونو څخه غوښتې چې په لمړي ګام کې د یاد هېواد د نفت واردات کم کړي او وروسته له ایران سره خپل ټول هوکړه لیکونه تر راتلونکي نومبر میاشتې پورې له منځه یوسي چې دا کار به د ایران د نفتو د صادراتو د کموالي لامل شي. خو سعودي عربستان د اړتیا په وخت کې کولای شي خپل د نفت تولید زیات کړي یعني سعودي د ایران د نفت د تولید کموالی جبرانولی شي. د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان په خپله یوه وینا کې ویل: موږ چمتو یو د ایران د هرې یوې بوشکې نفتو پر وړاندې چې د امریکا د بندیزونو له امله یې نه صادروي، دوه بوشکې نفت صادر کړو. موږ په خپله هوکړه او له هغې زیات ولاړ یو. د سعودي دغه شهزاده وویل، چې سعودي اوس ۱۰،۷ میلونه بوشکې نفت صادروي چې دا خپله یو رکود دی او د اړتیا په وخت کې کولای شي ۱،۳ میلیونه بوشکې نور هم صادر کړي. (سرچینه: https://www.akhbarak.net د ۲۰۱۸م د اکتوبر اتمه).

امریکا غواړي د ۲۰۱۸ د نومبر پر ۴مه پر ایران باندې خپل بندیزونه زیات کړي، چې کېدی شي د یاد هېواد نفت په ښه کړي او د نړۍ په هغو شرکتونو او هېوادونو فشار راوړي چې له هغه څخه نفت اخلي همداراز هغوی به اړ کړي چې له ایران څخه د نفتو واردات کم کړي. دا په دې معنا ده چې په نړیوال بازار کې به د نفتو د عرضې کچه کمه شي. لکه څرنګه چې په یادو شوو شمېرو کې وویل شول، ایران له دې د مخه په ورځ کې له ۴ میلیونو ډېر نفت تولیدول، خو اوس یې یاده د تولید کچه نیمه شوې. د ایران کابو دوه میلیونه د نفت تولیدات چین، هند او ترکیې ته صادرېږي او امریکا غواړي چې دا دوه میلیونه بوشکې هم ودروي او غواړي چې د سعودي او د اوپک د نورو هېوادونو لخوا یې جبران کړي چې له دې لارې امریکا کولای شي د ایران موضوع له اروپا، روسیې او چین څخه پرته حل کړي. هغه موضوع چې د ۲۰۱۸م د مې په ۸ مه رامنځته شوه چې امریکا له هسته یې هوکړې څخه چې درې کاله مخکې یې لاسلیک کړې وه لاس واخیست. امریکا هڅه کوي چې له ایران سره یو اړخیز هوکړه لیک ته ورسیږي. د امریکا ولسمشر اعلان وکړ چې موږ د داسې هوکړه لیک لاسلیک کولو ته چمتو

يو، خو د ايران دننه حالت بايد چمتو شي چې کيدای شي لږ وخت ونيسي. ټرمپ غواړي په دې سره هغه زيان چې د نفتو له توليد څخه په ياده موده کې رامنځته کيږي جبران کړي چې له ايران سره د اروپا له ګډون پرته د دوه اړخيز هوکړه ليک زمينه برابره شي. که د ايران د توليد ځای ډک نشي، قيمتونه به په چټکۍ سره زيات شي او دا کار به امريکا په يوه ستونزه کې واچوي، ځکه نو د ايران پر وړاندې د لګول شوو بنديزونو له امله د نفت په توليد کې رامنځته شوی تش ځای، د اوپک د غړو په خانګړې توګه د سعودي د ګوابنولو له لارې حل کوي. په بله وينا امريکا غواړي چې د توليد د کمښت موضوع حل کړي او ضمانت ورکړي چې له ايران سره د ستونزو تر حل کولو پورې به قيمتونه نه زياتيږي، ځکه کيدای شي دا کار په اوږدمهاله کې حل نشي.

له دې امله ټرامپ ټينګار کوي چې اوپک او په ځانګړې توګه سعودي د ايران د نفت د توليد نقص جبران کړي چې شايد د ۲۰۱۸ د نومبر پر ۴مه په بشپړه توګه محسوس شي. له هغه نقص پرته چې د ۲۰۱۸ د مې په ۲۱ د ونزويلا پر وړاندې د ټرامپ لخوا د لګول شوو بنديزونو له امله رامنځته شوی، که څه هم يې اغېزې کمې دي، ځکه چې اوسنی توليد يې په ورځ کې ۱,۵ ميليونه بوشکې دی.

دويم: د امريکا ټاکنې

له شکه پرته د نفتو د بيو لوړوالی به د دونالد ټرمپ لپاره ستونزې رامنځته کړي، ځکه چې په راتلونکې نومبر مياشت کې به د ټاکنو نيمه پړاو ته ننوځي او د نوموړي د پلويانو پر دريځ به اغېز وکړي، په داسې حال کې چې ډېری تر سره شوې ټولپوښتنې د دې ښکارندوی دي چې دموکراتان به د استازو د مجلس په کرسيو واک ومومي. ټرمپ د دې لپاره چې د امريکا رای ورکوونکو ته ثابته کړي چې امريکا د هغوی لپاره په لمړيتوب کې ده، ټوله پړه پر سعودي عربستان او د اوپک پر نورو غړو اچوي او پر هغوی فشار راوړي چې توليد زيات کړي. د ټرمپ د حکومت اداره په ورته وخت کې چين، هند او ترکيه هم اړ کوي چې له ايران سره خپلې اړيکې پرې کړي او خپل خام نفت له بل ځايه واخلي. د نفتو د بيو لوړوالی د يوه امريکايي مصرف کوونکي پر پيسو هم اغېزه کوي، چې د بنزين لپاره يې ورکوي او که دا زياتوالی د امريکا د ټاکنو په نيمه پړاو کې رامنځته شي د رايو په راټولو کې به يو عامل نه وي! ځکه د امريکا خلک د نفتو بيو ته په حساسيت سره ګوري، نو ټرمپ هېڅکله نه غواړي چې حکومت يې د نفتو د بيو د زياتوالي په لور روان وي او له همدې امله ټرمپ د نفتو د بيو د زياتوالي پړه پر اوپک او خليج هېوادونو اچوي، ترڅو د امريکا خلکو ته وښيي چې د خلکو له ګټو څخه دفاع کوي او د دې توان لري چې پر اوپک او سعودي باندې فشار راوړي چې بيې راټيټې کړي. ټرمپ د نفتو د بيې پر کمولو جدي پاملرنه لري - په ځانګړې توګه د امريکا په ټاکنو کې - ځکه هغه او د جمهوريت غوښتونکی حزب د ۲۰۱۸ کال د نومبر مياشتې پر ۶مه په نيمه پړاو ټاکنو کې د رای ورکوونکو رايو ته سخته اړتيا لري، په داسې حال کې چې سرشمېرنې دموکراتان مخکښ ښيي.

۵- پوښتنه دا ده چې ولې د ټرامپ د فشارونو او ګواښونو او د سعودي پر لبيک ويلو سربېره بيا هم د تيلو بيه د لوړوالي په حال کې ده؟ ځواب دا دی چې په اوپک کې نور اړخونه هم شته چې په اروپا پورې تړلي دي او د امريکا پر ضد دي او همداراز د قضيې يو اړخ روسيه ده. دا نور لوري په ځانګړې توګه هغه کسان چې په اروپا پورې تړلي دي په اسانۍ سره د امريکا غوښتنو ته مثبت ځواب نه وايي، نو ځکه د ټرمپ غوښتنې په هغه سرعت چې دی يې غواړي نه پوره کيږي. په دې کې شک نشته چې په اوپک کې د امريکا اصلي وسيله سعودي عربستان دی، خو نور دولتونه چې د اوپک غړي دي خپلې ځانګړې ګټې لري او ځينې يې په لويو اروپايي هېوادونو پورې تړلي دي چې ممکن په اسانۍ سره د امريکا غوښتنو ته سر ټيټ نه کړي او همداسې اوپک ځينې نور غړي لري لکه روسيه چې خپلې ځانګړې ګټې لري، نو ځکه امريکا د دې توان هم نلري چې هر څه وغواړي په اوپک يې ومني.

د امريکا ولسمشر د نفتو د بيو د ټيټولو په هڅه کې دی او د نفتو د توليد غوښتونکی شو، خو د اوپک سازمان او ورسره نور هوکړه ليک لرونکي توليد کوونکي د ۲۰۱۸ د سپتمبر په ۲۳مه د يوې ناستې په لړ کې د نفتو د توليد پر زياتوالي هوکړه ونکړه.

د روسيې په هکله بايد ووېل شي چې امريکا له ۲۰۱۷ راهيسې په سعودي عربستان فشار راوړی او هغه يې اړ کړی چې توليد زيات او بيې ټيټې کړي، دا لمړی ځل دی چې د سعودي يوه شاه د اوپک د غړو او له هغه بهر غړو سره د ناستې لپاره روسيې ته سفر کوي. ملک سلمان د ۲۰۱۷ په اکتوبر مياشت کې روسيې ته لاړ او د اوپک په ناسته کې يې ګډون وکړ او له هغې وروسته، د هرې بوشکې نفتو بيه د يو څه مودې لپاره ۶۰ ډالره ثابت پاته شوه او د کال له نيمايي وروسته د زياتېدو په

لور شوه، لکه څنګه چې یادونه وشوه، سعودي عربستان او روسیه په ورځ کې د ۲ میلیونه بوشکو اضافي نفت تولید ته چې د ټرامپ غوښتنه وه، ډېرې هڅې وکړې خو خپلواک شنونکي او د انرژۍ نړیوال اژانس داډ نلري چې سعودي عربستان او روسیه دې وکولای شي غوښتل شوې ۲ میلیونه بوشکې اضافه نفت تولید کړي. د انرژۍ نړیوال اژانس چې په پاریس کې دی او د نفت له مصرف کوونکو هېوادونو څخه استازیتوب کوي په وروستیو کې یې د سعودي عربستان په ګډون د منځني ختیځ د لنډ مهاله غوښتنو د پوره کولو په هکله ویلي: دا کچه په ورځ کې ۱,۱۴ میلیونه بوشکو ته رسیږي. شنونکي په دې اند دي چې ممکن روسیه هم په ورځ کې د ۴۰۰۰۰۰ بوشکې اضافه تولید ولري. بلاخره سعودي عربستان د متحده ایالتونو تر فشار لاندې وکړای شول چې د روان کال په سپتمبر میاشت کې په پټه توګه له روسیې سره د نفت د تولید د زیاتوالي په هکله هوکړه وکړي. رویترز په یو خبر کې ویلي: «دا هوکړه د دې ښکارندویه ده چې روسیه او سعودي عربستان د نفت د تولید د زیاتوالي سیاست د اوپک له نورو غړو سره له مشورې پرته تاییدوي». یادې شوې سرچینې وایي چې د سعودي د انرژیو وزیر خالد فالح او د هغه روسی همکار(الکسندر نوفاک) له یو لړ ناستو وروسته د روان کال له سپتمبر تر دسمبر د تولید د کچې د زیاتوالي په هکله هوکړه کړې، دا په داسې حال کې ده چې د خام نفت د یوې بوشکې بیه تر ۸۰ ډالرو رسېدلې ده. له دې سرچینو څخه یوه یې وایي: «روسیې او سعودي هوکړه کړې چې ورو ورو ډېر نفت نړیوالو بازارونو ته عرضه کړي، ترڅو داسې معلومه نشي چې هغوی له ټرامپ څخه اطاعت کوي. یوه بله سرچینه وایي: «د سعودي د انرژۍ وزیر د امریکا د انرژۍ وزیر "ریک بیري" ته ویلي: سعودي عربستان هغه مهال چې مشتریان یې ډېر نفت وغواړي خپل تولید به زیات کړي». (سرچینه: WWW.reuters.com)

ممکن دا پوښتنه پیدا شي چې ولې روسیه د نفتو د بیې د کمولو په لړ کې له امریکا سره مرسته کوي، په داسې حال کې چې لوړې بیې د روسیې په ګټه دي؟ دې پوښتنې ته په ځواب کې باید ووېل شي، چې له دې حالت څخه جوتیږي چې روسیه د ۶۵ ډالرو بیې سره ستونزه نلري، ځکه چې دا کچه د روسیې د نفتو له صنعت سره همغږي لري. د نفتو د بیې بې ساری زیاتوالی به د دې لامل شي چې د نفتو ډېر وارد کوونکي هېوادونه خپل توان له لاسه ورکړي چې دا کار به په پای کې د نفتو تقاضا کمه کړي او په طبیعي ډول به د روسیې د نفتو صنعت ته زیان ورسوي.

په هر حال دا روسیه نه ده چې په دې معادله کې بنسټیز ګواښ وي، بنسټیز اغېزمن اړخونه د اوپک هغه غړي دي چې اروپا پورې تړلي دي او په طبیعي توګه د ټرمپ د غوښتنو د منلو لپاره هغوی ته قناعت ورکول ساده کار نه دی او لویو فشارونو ته اړتیا لري. خو پر دې ټولو سره سره اغلب ګومان دا دی چې د نفتو بیه له ۱۰۰ ډالرو څخه زیاته نشي، ځکه چې د نفتو وارد کوونکي هېوادونو تر دې زیات د بیو لوړوالی نشي زغملی چې په پای کې تقاضا کمیږي او د نفتو د تولید د زیاتوالي لړۍ دریږي. دا هم باید په پام کې ولرو چې ټرامپ هڅه کوي ترڅو د ټاکنو په لړ کې د بیو کموالي ته پاملرنه وکړي یعنې د روان کال تر پایه، تر هغه مهاله چې امکان لري له ایران سره هستهیي هوکړه بیاځل رابرسېره شي او له اروپا پرته د امریکا او ایران تر منځ دوه اړخیز تړون تر سره شي او وروسته د امریکا فشارونه د کم شوي تولید په هلکه وي او کیدی شي بیې د ۸۰ ډالرو په شاوخوا کې وڅرخیږي.

خو د خواشینی ځای دی چې پردي قدرتونه د خپلمنځي سیالیو د ګرمولو لپاره د اسلامي نړۍ له پانګو څخه کار اخلي او زموږ کم عقله حکام په پټو سترګو دا سیاستونه پلي کوي او د اسلامي امت حیثیت او کرامت ته هېڅ ډول درناوی نه کوي. په داسې حال کې چې د نړیوال نفت ډېری زېرمې په اسلامي ځمکو کې دی. عربي ځمکې، ایران، افریقا لکه نایجیریا، منځنی اسیا، لکه قزاقستان، ترکمنستان، قفقاز او اذربایجان، خو له بده مرغه د نفت عاید د یادو ځمکو استوګنو خلکو ته نه رسیږي، هغو اوسېدونکو ته چې ډېری یې ناداره او مسکین دي. دغه خاین حکام د هغوی د کور غړي او یا د هغوی نږدې کسان دي چې ټول عاید یې ځانته ځانګړی کړی او پانګې له اسلامي خاورو څخه بهر ته قاچاق کوي. کله چې ټرمپ د ۲۰۱۷م د مي په ۲۱ له سعودي عربستان څخه ۴۶۰ میلیارد ډالر وغوښتل، آل سعود په چټکۍ سره دې ته حاضر شول چې دا غوښتنه ومني.

دا باید ووېل شي چې له راشد خلیفه لکه عمر فاروق پرته هېڅوک به مسلمانان له دې بد حالت څخه ونه ژغوري، داسې خلیفه چې پانګه به یې په عدالت سره د خلکو تر منځ وېشله او وېش به یې له بې وزله کسانو پیل او په خلیفه به یې ختم کړ او خلیفه به وروستی کس و چې له دې مال څخه به یې برخه اخیسته او وروسته له ټولو به یې ډوډۍ خوړله. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ الْإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»

(رواه البخاري)

ژباړه: تاسو ټول مسئول یاست او ټول به له خپل رعیت څخه ځواب ورکوئ، امام د خپل رعیت په وړاندې ځواب ویونکی دی.

هغه کس چې له خپل رعیت سره خیانت وکړي سخت عذاب به یې په مخ کې وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې چې طبراني په الکبیر کې روایت کړی داسې فرمایلي:

«مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللَّهُ رَعِيَّةً، يَمُوتُ يَوْمَ يَمُوتُ غَاشّاً لِرَعِيَّتِهِ إِلا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ»

ژباړه: هر بنده چې الله سبحانه و تعالی یې په رعیت باندې مسئول کړی او په پای کې هغه په داسې حال کې ومري چې له خپل رعیت سره یې خیانت کړی وي الله سبحانه و تعالی به جنت پرې حرام کړي.

دا د خاینو پایله ده که دوی لږ فکر وکړي!